مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۶/۱۰/۲۶

# راروان ژمی او د لوږېخوناميِ

## د لوږې ځوناميِ

## ۴۸مه برخه

### پاچا که غوږ لري، نو واوره
### خلک له لوږې اولادونه خرڅوينه

په افغانستان کې د کلونو ـ کلونو جګړو او اداري فسادونو، د لوږې ځونامي له پراخيدو سره مرسته کړې، اوس چې د دې لوږې او بيکارۍ د سوځنده اور دايرې ته، نااهله او ظالمو ګاونډيانو شپږ.ميليونه نور بېکاره او وږې هم راوشړل، د افغانستان اوسني حاکمان خو پرېږده، چې د ډېرو امکاناتو لرونکي دولتونه به هم ورته ټينګ نه شي. چې دا ډلهايزه راستنيدنه به په نشتو امکاناتو او تشلاس څه ډول مديريت شي، دا په خپله يوه ځونامي ده.

په دغسې حالت کې چې خلک هيڅ ډول امکانات هم نه لري، ژمى هم د يوحتمي راتلونکي نابللي ميلمه غوندې راروان دى چې دا د ستونزې لهپاسه بله ستونزه ده. دا ړ افغانان به په تشولاسونو او مشوشو افکارو سره ځنګه له دې غرونو ـ غرونو ستونزو سره ګوزاره او مبارزه کوي؟

له بېلابېلو بااعتبارو او بې اعتبارو پټو نه رنګارنګ ناهيليکونکو خبرونو خپرېدل، خلک نورهم خپه کوي او حتى لار ورنه ورکوي. په دې وروستيو وختونو کې د نشتو امکاناتو په دايره کې، داسي زوررونکي خبرونه او رپوټونه خپريږي، چې له ستونزو سره لاسګرېوان خلک يې اوريدلاى او لوستلاى هم نه شي. دا يې د سرليکونو څو بېلګې دي:

تاند:
«م.م : په ژمي کې به په افغانستان کې ۱۹.۲ ميليونه کسان له سختې لوږې سره مخامخ شي»

بيبيسيپښتو:
«ملګري ملتونه: خوارځواکي افغانستان کې تر ټولو زيان اړونکى ګواښ دى ځکه خلک بې وسه دي»

بيبيسيپښتو:
«... د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ اداري (اوچا) تازه ويلي چې په افغانستان کې نژدې ۲۲ ميليونه کسان بشري مرستو ته اړتيا لري»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

بي‌بي‌سي‌پښتو:
زه هېڅکله افغانستان ته نه یم تللی': شپږ میلیونه ایستل شوي کسان د طالبانو تر واکمنۍ لاندې له سره ژوند پیلولو ته اړ شوي دي

تاند:
«په افغانستان کې د مرستو کمښت تر ټولو زیانګالو خلکو ته سخت زیان رسوي»

بي‌بي‌سي‌پښتو:
«د ملګرو‌ملتونو مقاماتو خوځولې ویلي دي چې»

بي‌بي‌سي‌پښتو:
«یونیسف: په افغانستان کې یو میلیون ماشومان له ژوند ګواښونکي خوارځواکۍ سره مخ دي»

بي‌بي‌سي‌پښتو:
«په افغانستان کې د طالبانو د حکومت پنځه کاله: نړیوال د ملاتړ د کموالي خبرداری ورکوي»

تاند:
«افغانستان کې په سختې خوارځواکۍ د اخته ماشومانو شمېر زیات شوی»

تاند:
«افغانستان لپاره د بشري مرستو بودیجه تر ټولو ټیټې کچې ته رسېدلې»

له نږدې او لرې هیوادونو څخه د افغانانو د راستنیدو لړۍ روانه ده.

«د ملګرو ملتونو د اټکل له مخې، د ۲۰۲۶ کال د اپریل او دسمبر ترمنځ به شاوخوا ۲.۷ میلیونه افغان کډوال له ایران او پاکستان څخه افغانستان ته راستانه شي. د ملګرو ملتونو ادارو د دې بهیر د مدیریت او د راستنېدونکو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره د ۵۲۹ میلیون ډالره مالي مرستې غوښتنه کړې ده.»

د دغو ستونزو او د مهاجرو هیوادوالو د بیرته راستنیدو ترڅنګه، د طالبانو حکومت ځینو پالیسیو په وجه نړیوالي مرستې هم ورځ‌تربلې راکمېږي او ملګري ملتونو وایي چې یو دلیل يې د ښځو او بشري حقونو په اړه د طالبانو حکومت "ځپونکې تګلارې" دي چې د نړیوالو بسپنه ورکوونکي له پالیسیو سره په ټکر کې دي. د دغو ستونزو حلارې هېڅوک نه‌شي ښوولای.

په افغانستان کې د لوږې څونامي ځپونکوځپو، د شپږ‌میلیونو په شاوخوا کې دراستانه شوي بیکاره افغانان، وچکالي او طبعي پېښې هغه لاملونه دي چې تر شل‌میلیونه ډېرخلک همدااوس بیړنیو مرستو ته اړ دي، خو مرسته کونکي هیوادونه او مؤسسې نه یوازې خپلې ژمنې نه‌پوره کوي، بلکې د پخوانیو وعده کړو مرستو اندازه هم راکموي.

د لوږې‌څونامي د پایلو پټ خطر، خوارځواکي ده چې په لومړي ګام کې ماشومان او باردار‌ښځې ځپي. اوس یوځل بیا میډیا کې رپوټونه خپاره شوي دي چې: «د افغانستان په جنوب کې د ماشومانو شدیده خوارځواکي زیاته شوې»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

که د ماشومان خوارځواکي اوږده موده وغځېږي، په خوازځواکي باندی اخته ماشومانو راتلونکي ژوند باندي هم ژور منفي اغیز لرلای شي. که ژرترژره د دې ستونزو د حل لهپاره چاره ونه سنجول شي، بنایي لوی بشري ناورين رامنځته شي.

**«د دوی (خلکو) ډیوې دې خدای ولګوي، موږ به د زيارت ډیوې بلوو.»**

(استاد ګلپاچا الفت)

د لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ